وهمچنان شماراامت وسطي ساختيم
تابرمردم گواه باشيد وپيامبر(ص) برشماگواه باشد

شهادت

(۸) صفحه

ارگان مرکزي حزب اسلامي افغانستان

يك تن از قوماندانان غند قومي باهفت تن مليشه دربغلان تسليم مجاهدين شد

بغلان ۱۲ جدي ۱۳۷۰:
افغان نيوزايجنسي ازولايت بغلان گزارش ميدهد كه يكتن ازقوماندانان غند قومي باهفت نفر مليشه تحت قومانده اش درشب ۷ جدي خودرا تسليم مجاهدين تحت فرماندهي قوماندان بشيرخان نمود. خبرعلاوه ميكند مجاهدين دليرآن ولايت طي يك عمليات مشترك تحت فرماندهي برادر بشيرخان كه بالاي غند قومي معلم اكبر انجام دادند، درنتيجه نورعلي آغا قوماندان يكي ازپوسته هاي غند باهفت تن ازافراد مسلح اش درشب ۷ جدي به مجاهدين تسليم شد.

راپورمي افزايد: مجاهدين تحت قومانده رحيم الدين بالاي غند نمبر ٤.٥ عمليات موفقانه اي انجام دادند كه درنتيجه ده تن ازافراد مسلح غند به شمول قوماندان پوسته اسيرو دوتن ديگرشان به هلاكت رسيدند.

هم چنان طي اين عمليات در غند ٤.٥ كه دربين شهركهنه وشهرنو بغلان قرار دارد ده ميل سلاح خفيف، دوميل گرينوف، يك ميل راكت انداز، يك ميل تفنگچه، يك پايه مخابره آر ۱.٥ بامقدار زيادي مهمات به غنيمت مجاهدين درآمد.

قرارراپور درجريان اين عمليات كفر ستيز چندين پوسته حفاظتي رژيم به اثر اصابت سلاح هاي ثقيل منهدم شده وتلفات جاني ومالي زيادي به آنها وارده شده است.

الهي لارښوونې

لوي خداي جل جلا له فرمايي:

له نارينه او ښځونه چي كوم كسان خيرات وركوونكي دي او الله ته يې حسنه پور وركړيدي، هغوي ته به څو برابره وركړي شي او دهغو لپاره بهترين اجر دي

الحديد ۱۸ آيت

شماره مسلسل (٤۲۳) سال چهاردهم، شماره (۱۱۹) يكشنبه (۱٥)جدي ۱۳۷۰ هـ.ش- (اول)رجب ۱٤۱۲ هـ.ق- (٥)جنوري ۱۹۹۲م

راشد الغنوشي رئيس جنبش اسلامي النهضة تونس

پيروزي مسلمانان الجزاير، انقلاب مسالمت اميزي است

ص(۸)

مجاهدينو دخلم - مزارشريف په لويه لاركي درژيم يوه پوسته فتحه كړه

سمنگان:
دميهبا خبري آژانس دشهادت ورځپاڼي اداري ته يوخبر راليږلي چي په كي ويل شوي زمونږ مؤمنواوتورياليومجاهدينو تيره مياشت دسمنگان ولايت دخلم ولسوالي لويديځ لور دري كيلو متري كي دخلم مزارشريف په لويه لاره كي د گوډاگي رژيم د ٥۷٥ نمبر غونډ پربوسلو تهه پنځو سمي ستري امنيتي پوستي باندي بريريالي تعرضي بريد وكړ اونوموړي پوسته يې فتحه اودپوستي قوماندان له يو شميرعسكرو اومليشو سره ووژل شول. اوه تنه يې ژوندي نيولي شوي اوپاتي كسان دشپې له تياري ځخه په استفادي سره تښتيدلي دي.

رپوټ زياتوي چي مجاهدينو پدي جگړه كي درژيم له قواو نه يوميل راكټ بوميل P.K ماشينگنه - اوه ميله كلاشينكوفونه د R-105 دمخابري يوه دستگاه او زياته اندازه پوځي مهمات اولوژستيكي مواد په غنيمت نيولي دي.

ددغو عملياتويه بهيركي مجاهد پنو ته لله الحمد دسراومال كوم تاوان نه دي رسيدلي.

سيمينار بررسي جنايات ظاهرشاه درتهران برگزارگرديد

تهران ۱٤ جدي
خبرنگارشهادت ازتهران خبرمي دهد، سيمينار سه روزه تحليلي تحت عنوان بررسي جنايات ظاهرشاه وخاندان نادري در دوره تسلط شان برافغانستان درمحوطه كتاب خانه شهيد عبدالرحيم (نيازي) مربوط حزب اسلامي افغانستان بتاريخ ۹ جدي سال جاري درتهران مركز جمهوري اسلامي ايران دايرگرديد.

سيمينار متذكره روز دوشنبه آغاز وازتمام شخصيت هاي شناخته شده جهادي درايران دعوت به عمل آمده بود.

درخبراضافه مي گردد اشتراك كنندگان يكي بعداز ديگري تمام مظالم كه همين حالاامت افغانستان به آنها روبرو هستند ثمره تسلط خاندان نادري وخصوصا شاه سابق افغانستان به حساب آوردند.

درخبرارسالي اضافه گرديده: دراين سيمينار عدهٔ ازمهاجرين مقيم ايران وچهره هاي شناخته جهادي اشتراك نموده بودند كه ميتوان از:
برادر خيرخواه مسئول دفترجمعيت اسلامي افغانستان درتهران، استادمآب مربوط جمعيت اسلامي افغانستان برادرافضلي مربوط اسلام مكتب توحيد، قاضي سليم مربوط حركت انقلاب افغانستان.
برادرامامي مربوط حزب وحدت اسلامي افغانستان.
برادر خليل مربوط داعيهٔ اتحاداسلامي افغانستان نام برد وبااشتراك شان به عظمت اين سيمينارافزودند.
سيمينار بعد ازسه روزاختتام پذيرفت ودراخير قطعه نامهٔ نيز ازجانب اشتراك كنندگان صادرگرديد.

شاهراه كابل سالنگ بروي قطار هاي نظامي رژيم مسدود گرديد

خبرگذاري ميديا به نقل قول ازيك منبع جهادي ازولايت پروان گزارش ميدهد كه مجاهدين از چند روز به اينطرف شاهراه عمومي سالنگ - كابل را بروي قطارهاي اكمالاتي نظامي رژيم در منطقه جنگل باغ ولايت پروان مسدود وبتاريخ ۳ جدي ۱۳۷۰ دريك برخورد يك عراده تانك رژيم منهدم و شش نفر ازافراد نظامي رژيم به شمول يك صاحب منصب به هلاكت رسيد.

راپور علاوتا مي كند كه بتاريخ پروان.
مذكوريك پوسته حفاظتي رژيم مستقردرسياه كوت ولايت پروان توسط افراد ارتباطي به مجاهدين تسليم گرديد.

طبق راپور محافظين پوسته متذكره ٦ ميل كلاشينگوف يك پايه مخابره ويكمقدارمهمات رانيز همراي خودآورده اند.

طبق راپور منبع خبري درميان افراد تسليم شده رژيم دوتن ازمحافظين پوسته حفاظتي ميدان هوايي نيز شامل اند.

گامسوخورديايلتسين رامتهم به تحريك شورشيان نمود

تفليس ۱۳ جدي
گامسا خوردياريس جمهورگرجستان بوريس يلتسين رئيس جمهور فدراسيون روسيه رامحرك شورش مخالفان دراين جمهوري معرفي كرد.

رئيس جمهوري گرجستان درمصاحبه يي باروزنامه الموند چاپ مادريد كه روزجمعه منتشرشد گفت: مادرشرايطي هستيم كه ميتوانيم مخالفان را از ميان برداريم ولي براي پرهيز ازبوجود آمدن حمام خون بايد بااحتياط عمل كنيم.

وي افزود ارتش شوروي سابق براي كمك به رئيس جمهور قانوني گرجستان نيامده بلكه دركنارمخالفان قرارگرفته است.

به مناسبت تهاجم وحشيانه قشون سرخ ونابودي نظام كمونيزم محفل "بزم شعري" درصحن دفترنشرات خارجي حزب اسلامي دائرگرديد

محفل تحت عنوان بزم شعريه مناسبت تهاجم وحشيانه قشون سرخ برافغانستان ... ازمامورين ومنسوبين تنظيم هاي جهادي حوالي ساعت ۲ بجه بعدازظهر باتلاوت ... اناتسر پروگرام هدف برگزاري محفل رابيان نمود.

ونابودي نظام منحوس كمونيزم روز ۱۲ جدي سال جاري به ابتكارآمريت تاريخ انقلاب رياست ارشاد وفرهنگ حزب اسلامي درصحن دفتر نشرات خارجي حزب اسلامي، واقع حيات آباد دايرگرديد. بعدا عبدالمعبود "سراج" محفل با اشتراك عده يي از شعراي جوان وهمدفمند انقلاب اسلامي وتعداد

صفحه (٥)

سرمقاله

بنام خدائيكه بر انظره معربان نعابت ملهم آمت

داسلامي انقلاب دچيلنج ناكامي هڅي

په اسلامي هيوادونوكي داسلامي ويښتابه خوځښتونو زمونږ دانقلاب له زمزمو سره داسي جوش وخروږ، چي ديوه دورانسازي څواك په توگه يې له يوي مخي دپانگوالي دسترخواكي اوبيا په تيره ديوازيتوب اوبي ساري هيلي دمحكومو پرگنو دقهراوغضب په احساساتي اوجذباتي سمندركي لاهوكړي، چي له مسيحي كليساوونه د" صلاح الدين ايوبي" دبياراتگ په اخطار ناقوس به شرنگيدو راغي، كه په خير سره وځيرل شي، نودنړيوال كفر په اصطلاح دعراق پراسلامي هيوادگډ يرغل هم دصليبي جگړو تعاقب اوتداوم ؤ. داسلامي هيواد الجزاير دآزادي په غورځورځوكي چي له متقابل حريف فرانسوي جنرال ته دهغه دماتي پوښتنه وشوه، نووي ويل: "زمونږ پوځ له الجزاير سره جنگيدلي شي خوله قرآن سره نه" داسلامي نړي جهادي جذبه هغه پټ قوت دي، چي لويديځ نړي دتل لپاره په ويره اودكلكي څارني په حال كي ليدل كيږي. كه دروس دتجزيې پروخت منځني آسيانه خبرشو، نوگورو، چي لاتراوسه پري دكمونيزم پاتي شوني واكمن دي. داكومه تصادفي پيښه نه ده، بلكي په قصدي دول مسلمانان كوم ژوريدلون ته نه پريښودل كيږي. په تاريخ كي دديري ستري پيښې په منځ ته راتلو چي هماغه دكمونيزم ماتي ده، دمنځني آسيا دهيوادونو سياسي رژيمونه لاځه چي شخصيتونه يې هم ندي بدل شوي، او همدالامل دي، چي دمجاهدينو بريالبتوب به يې اسلامي انقلاب له پولووړو اړوي، اوهمدغه ويره ده، چي چين اوهند هم پكي برخه اودلچسپي لري. دچين ستره ستونزه دتبت آزادي غوښتونكي اوچيني مسلمانان دي، اوداشك به هم وورسره خامخا وي، چي دمنځني آسيا بيا طلوع ديوه گډ اسلامي بلاك په رامنځته كيدو داسيااستراتيژيك حيثيت بدلولي شي. چين له همدي خايه انديښمن ښكاري، چي دمنځني آسيادويښتابه شورشونه به دچين لړ كي اغيزمن كړي، نوځكه يې دامريكايي ښكيلاك غونډي په لړ ودېرتوپيرداسي سفرونو ته متي را نغښتي دي. بايد څرگند كرو، چي گرده مادي نړي ترخپلو گټو پوري ژمنه ښكاري، او كله يې چي دمادي گټودتكرويره پيداشي، نوبيا هيڅكله خپل پخواني دريځ ته وفاداره نه ښكاري، هرڅوك خبردي، چي لويديزي نړي به دروس سره دجنگ پروخت افغانان قهرمان گڼل، اوپه راز، راز وياړلو القابويه يې مخاطب كول، خوننن دهمدغي لويديځ له خوادغي مومنو مجاهدينو پسي له حده وتي پروپاگند كيږي. او دهمدغي لاري چي په هره بيه وي، داسلامي نړي دهيلو دسترمركز په توگه يې دنړيوالويه ذهن كي ټكوي، اودغي ستريرپالي انقلاب ته دقبيلوي جنگ اوپانوروخطاب كوي. بي بي سي اوامريكا غږ چي په نړيوال دگر دښكيلاك دهيلو ترجماني كوي، داسي شبيه به نه وي، چي دجهاد پرضد دكوم مخالف

(۷)مخ

دولي خان په گډون دعوامي نشنل پارټي گڼ مشران كابل ته ځي

بي بي سي - دمرغومي ۱۳ نيټه:
ويل كيږي چي ولي خان، اجمل خټك، اودعوامي نشنل پارټي نورمشران كابل ته روان دي. دخبرونو له مخي دانول مشران كابل ته تلونكي دي خوداسي ښكاري چي ځيني به مخكي اويعضي به وروسته لاړشي.

رپوټ وائي چي تراوسه پوري داخبره څرگنده نه ده چي دوي ولي هلته ځي خوداپوه عجيبه خبره ده چي ټول په يووخت كي كابل ته روان دي.

خبرزياتوي چي ويل كيږي چي دوي به دكابل له مقاماتوسره دافغانستان په مسئلي باندي هم خبري وكړي.

غرب ازپيروزي مسلمانان درالجزاير نگراني مي نمايد

لندن - ۱۳ جدي:
دربي تظاهرات احزاب مخالف جبهه نجات اسلامي الجزاير درپايتخت اين كشورمطبوعات غرب ومحافل دولتي الجزاير تبليغات گسترده اي را براي خدشه داركردن پيروزي مسلمانان الجزاير درانتخابات پارلماني اين كشور آغازكرده اند.

تظاهرات روزگذشته الجزاير بدعوت جبهه نيروهاي سوسيالست اين كشور برگزار شد ومطبوعات غربي بخصوص فرانسوي باتهيه وپخش گزارش هاي مصور وراپور تازهاي خبري به تفصيل هاي مختلف مردم الجزاير را تشويق ميكند تامانع پيروزي هاي سياسي مسلمانان اين كشورشوند.

درعين حال مطبوعات انگليس نيزبادرج مقالاتي درباره پيروزي جبهه نجات اسلامي الجزاير خواهان جلوگيري ازبرگزاري دور دوم انتخابات دراين كشور شدند.

روزنامه فاينتشل تايمز طي مقاله اي دراين باره باابراز نگراني از برگزاري دوردوم انتخابات وپيروزي مسلمانان درآن نوشت: دراين صورت الجزاير محكوم به فنا ونابودي خواهدشد.

ديلي تيلگراف روزنامه ديگرانگليسي نيز طي مقاله اي احتمال يك كودتاي نظامي درالجزاير را درصورت موفقيت مسلمانان دردور دوم انتخابات مطرح كرد ونوشت: ارتش الجزاير تاكنون ازشركت فعال درعرصه سياسي كشور خود داري كرده است ولي درصورت قطعي شدن تثبيت موفقيت مسلمانان درپارلمان الجزاير، احتمال يك كودتاي نظامي راتميتوان ناديده گرفت.

فدراسيون روسيه چون اتحاد شوروي از بين خواهد رفت

ص 8

دهلمند ولايت د" الشمس" جبهي قوماندان دشهادت خبريال سره په مركه كي

شهادت دجهادي قوماندانانو سره دمركو په لړكي داخل دهلمند ولايت دالشمس جبهي له قوماندان معلم نان باي سره مركه كړه چي ... دلوستونكو دمعلومات لپاره خپرو.

پوښتنه: محترم قوماندان صاحب تاسو خپل ځان دشهادت لوستونكو ته معرفي كړ ي؟

ځواب: بسم الله الرحمن الرحيم
زه معلم نان باي دهلمند ولايت دنوزادولسوالي دالشمس دجبهي مسئوليت په غاړه لرم.

پوښتنه: كه تاسو مهرباني وكړي اودهلمند ولايت دمجاهدينو دوضعي په باب څه معلومات راكړي ښه به وي؟

ځواب: په هلمند ولايت كي دمجاهدينو وضع ددولت دځواكونو په وړاندي كي بالكل دواډوړده، هلته يوازي دحزب اسلامي جهادي ٦۳ جبهي موجودي دي چي له پيله په وسلوال جهاد كي برخه لري خوداڤسوس ځاي دادي چي هلته تنظيمونو په نامه دمجاهدينو دحزب اسلامي او نورو جهادي تنظيمونو په مقابل كي مشكلات پيداكوي، جنگ پري تحميلوي.

پوښتنه: ددي ذات البيني جنگونو علت څه بولي؟

ځواب: له كومه وخته چي دحركت انقلاب اسلامي قوماندان نسيم آخندزاده په

(۷)مخ

تلاش غرب براى ايجاد اختلاف ميان مجاهدين، ازابتداي جهاد تااكنون براى مامحسوس است

زموږ پروینو دمظلوموملتونو تنده ماته شوه

مبشر

توره ، زړه ورتوب ، شجاعت اومیړانه زموږ دوياړلي اوقهرمان ملت پرخلیك څه اوسني خبره نده بلكه ددغه آزادي پال اوپر آزادي مین اولس په خټه كي اخښل شوي عنصردي چي له پېړیوپېړیوراهیسي دقرباني اوحماسه جوړوونكي تاریخ لري كېسي اوداستانونه پري لیكل كېږي.

دغه سترافتخارات نه یوازي زموږ دهیواد ترپولو پوري منحصر پاته شوي بلكي دنړي دتورو پوزلو اومحكوموولسونو لپاره دیوي ستري نیكمرغي زیري هم گڼل شوي دي ، اوان ترڈي چي دڅښتو محكوموداوداستعمار تر پنجو لاندي ملتو اوهیوادو په آزادي گټلو كي عملاً اقدام كړي دي.

اوڅښتو تورو ورڅخه دآزادي دالهام په اخیستو د غلامي له اوږدو درنوخوبونوراپورته شوي اودخپلي خپلواكي دسترنعمت دترلاسه كولو پرڅمن شویدي.

له تاریخي مطالعاتو اوحقوتاریخي اشخاصو چي عملاً یې دانگریزي استعماریه ځپلو ،تخروروتپولولو او لاس لندولو كي په پوره ایمانداري ونډه اخیستي وه اوس هم پدي شاهدي وركوي چي همغه افغانستان وو چي دبرصغیر (اوسني پاكستان - اوهند) څخه دپرنگي استعمار په وړاندي دجگړي میدان ته داسي مخامخ اونیغ په تیغه ورغلل چي هلته هم دانگریزي ښكیلاكگرو ښي سستي شوي اوددغه ځاي پر پریښودلو مجبور شول.

خودخپل شیطاني انگریزي چال پر بنایې دغه كوچني وچه پداسي برخو وویشله چي له همغي ورڅي څخه تر دا ننه پوري دخپلمنځي اختلافاتو اوربي مرشوي نه دي بلكي ددغې ستري ستونزي دنوروزیات كړكیچ دراپیداكیدو امكانات لیدل كیږي.

همدا ډول داوسني آزادكشمیر دآزادي په ترلاسه كولو كي چي دهندي سیكولر واكمنو راجگانو په وړاندي افغانانو دخپلي عقیدوي خواخوږي كوم هاند چي دكشمیردمسلمانانو سرولكړي هیڅوك به له هغي څخه سترگي پټي نشي كړاي اونه به دكشمیرمسلمان خلك دغه ستراحسان هیركړي.

داخو یوڅوهغه خبري وي چي له خروارڅخه موټي (مشت نمونه خروار) چي په لنډډول موورته اشاره وكړه .خو زموږ دیاتورمؤمن ملت له پوره تاریخ څخه سري هله سه خبریداي شي چي په ارام زړه اوپراخه حوصله دهغه دتاریخ مطالعه وكړي خوخیر ، داخبره به هغه څاته وسپارو څوك چي پدي برخه كي زیات معلومات ترلاسه كول غواړي.

هو !

زموږ په ویښو دنوروملتو تنده ماته شوه اوهغه یادگارونه یې پري تازه اوولیكل شول چي : په تاریخ كي به یې ساري ونه موندل شي اوتاریخ زموږ په كارنامو تازیږي.

دیوي نظري له مینځه وړل اوپر هغې باندي دبطلان كرښه راكښل څه دومره اسان كار اوساده خبره نده بلكي داكار پوره سرښندنه ،ثابت عزم ، لوړ همت ، په پېړیواوډیرو كلونوكي ترسره كیداي شي ، خودلته دیوټكي یادول ضرورراوفرض گڼم او هغه دا چي الله تعالی دكوم كاراو یا پوچا په هكله څه فیصله كړي وي هغه حتمي اوپیله كوم شك اوشبهي سرته رسیږي .

زموږ مؤمن اومتعهد ملت په ډیركم وخت خودزیاتي اوبیساري قرباني په وركړه .

دلوي اومتعال خداي (ج) په ښكاره نصرت دوه ستري شیطاني امپراتوري (انگریزي - روسي) راوپرځولي چي نژدي په گرده نړي دخپل زور اووحشت منگولي ښخي كړي وي اواوس له یو داسي پرخلیك سره لاس گریوان دي چي تیرتاریخ اویادونو یې زړونه خپه كړي دي .

زموږ مؤمن اوقهرمان ملت دپېړیوپه اوږدوكي نه بلكه دڅوكلونو په موده كي هرډیرغلگراواستعماري ځواك داسي په گونډو كړي چي بیا هیڅكله په خپلو پښو دودریدو جوگه شوي ندي. همدا اوس زموږ په وړاندي دخپل ویاړلي اوحماسه جوړوونكي تاریخ داسي پاڼونه پراته دي چي دنړي سترموورخین یې لكیلوته حیران پاته دي.

زموږ دحق پالونكي اوزړه ورې مبارزي الهیزي دي چي دبښمنان هم دهغي په حقانیت اوپریالیتوب اعتراف كوي ، اوپږدي قانع دي او وایې چي : دافغانانو سرښندنه اواتلوالي ده چي زموږ اوږده لاسونه یې لنډ كړل . له دي ځرگندونوڅخه معلومیږي چي دماتي خوړلي دبښمن استعماري لاسونه دمحكومو ملتونو دنورستوني ورڅپه كولو څخه لنډ اووحشت پنجي یې غوڅي شویدي.

دكرېلین له استبدادي ماڼي څخه دمستبدینو دمستبدي واكمني سمبول په ډیرسپكاوي سره پرزمكه راپرېښتل شو ، دكارگر اوبزگرپه سرځتك اوله غاړي راتاولوو چي له ډیرو كلونو راهیسي دكمونیزم دیرغلگرواولښمارو ، ددوكي اوفریب ځرگنده علامه وه دتل تل لپاره دمحكوموكار گرانو اوبزگرانو له سرونو اوغاړو څخه ددغه شیطاني زوروظلم اوچلوټولي ختمه شوه.

رښتیا خبره ده چي په نړي كي دسترویدلونونو ، بنیادي سلسله اوریشه زموږ دمبارزي اونه ایلیدونكي هوډ هنگامه ده ، خو وایې چي كولال یې په مات لوښي كي خوري .

هوا

زموږ دپاكوویښو له بركته دپېړیو اوكلونوراهیسي محكوم

۷ مخ

شمالي افریقادرون اسلامي سباوون په لور

عبدالمالك :رحماني

دتیرعیسوي كال په سیاسي افق كي دنورو پیښوترڅنگ ، دالجزایر په پراخه هیوادكي پارلماني انتخابات هم داسي واقعیت وچي دنړیوالو پام یې جلب او دامریكادنوي نړیوال نظام په وړاندي یې دیوبل څه په حیث راڅرگندیږي ، رښتیا خبره همداده چي دالجزایر په پارلماني انتخاباتو كي داسلامي قوتونو غوڅ اوبې ساري بریالیتوب دامریكا اوانډیوالانو په هغه خوښۍ اوغرور اوربوري كړ چي د خلیج له جگړي اودشوروي له دړي وړي كیدو څخه یې ترلاسه كړي وو .

دالجزایر دپارلماني انتخاباتو دلومړي پراونتیجي چي تیره اونۍ اعلان شوي دغربیانو اوپه هغوي پوري دتړلو داپرولپاره دومره سخت اونه اټكل كیدونكي گوزاروچي ناڅاپه یې په سرراكوز شویدي انتخاباتو كي داسلامي نجات جبهې یادغربیانو په اصطلاح بنیادگرومسلمانانو په سلو كي ترپواتیازیاتي را یې ترلاسه كړي چي دنړي په هیڅ هیوادكي یې ساري نه لیدل كیږي همداوجه ده چي دابري نه یوازي دامریكا اونورو استعماري ځواكونو په سردتندرگوزاردي بلكي دسیمي دهیوادو دپردوپالو حكومتونو لپاره هم دخطرزنگ ښكاري ، ځكه هغه حكومتونه چي گلونه گلونه دنورو دلاس آله اوډپردو په قومانده اواشاره دخپلو خلكو پراوږو سپاره دي كله هم داسلام اومسلمانانو بري ته ښه راغلاست نه شي ویلاي ، لاچي بري ویرنه كوي په دي كي شك نشته چي په الجزایركي داسلامي غورځنگ بري له یوي خوا هغه هیواد نه دپردو اواستعمارچیانو اوږده لاسونه ورلنډ وي اوله بلي خوابه دسیمي دهیوادونو داسلامي تحریكونو لپاره دلاري مشال اوبالقوه حامي شي. هیله كیږي چي دهمدي تحریك دبري له بركته به په سیمه كي دروان ۱۹۹۲ كال ترپایه پوري داسلام اومسلمانانو په گټه زیات تغیرات رامینځته اوپه گنو هیوادوكي داسلام بیرغ په ریښتیٰ په ځانگړي توگه چي ترڅنگ یې سودان لاپخوا داسلامي شریعت په لور گرندي گامونه اخستي اوداهغه څه دي چي غربیان یې له لیدلو نه سخت په ویره كي دي .

یوه دیادولوړخبره داده چي په یوه اسلامي هیوادكي دمسلمانانو بري اوپه سلوكي اتیا رایي ترلاسه ،كول په ظاهري نظرباید دتعجب وړنه وي اونباید پري دومره مباحات وشي، ځكه پكار خوداده چي په یوهیوادكي چي داسلام په نوم جوړشوي اوپه سلوكي ۹۹ اوسیدونكي یې مسلمانان وي ۹۹ فیصده خلك باید داسلام په پلوي رایه وركړي اوتردي چي هرڅومره كم وي باید پري خفه شو ، ولي بدبختي داده چي نن دپردو په اشاره اوسازش په هراسلامي هیوادكي مسلمانان ترشكنجي لاندي دي دسیاسي فعالیت اجازه نه وركول كیږي اوپه اصطلاح دېرمختگ ضدپلل كیږي ، نوڅكه چي په داسي هیوادكي مسلمانان بري ترلاسه كړي، نوخوښي پري كوو نن ددنیا تقریبا ټول اسلامي هیوادونه په همدي حالت كي دي ، چي مشران یې دپردوپه اشاره خپلي پالیسي عیاروي اوداواكمني موده یې اوږدوي ، نه پریږدي چي مسلمانان سر راپورته كړي ، اوكله چي مسلمانان دواك اخستلوته نږدي كیږي نوبیا یې بل پسي توطیې ورته جوړیږي او را وړاندي كیږي تر څو مسلمانان پري بدنام او وټكوي ، اوبیا داسي وسایل اودلایل راپیداكوي چي داسلامي حكومت دجوړیدو مخه پري ونیسي . نن چي په الجزایر كي مسلمانان دواك اخستلو په درشل كي دي دهمداسي سازشونواو توطیو دراپورته كیدو ویره شته .

دموضوع دروښانولو لپاره دالجزایر هیواداوداسلامي تحریك كاروفعالیت ته یوه لنډه كتنه كوو دالجزایر هیوادداافریقایه شمال اودتونس، لیبیا، نایجر، مالي او المغرب سره گډي پولي لري، په سلوكي ۸۵ برخي یې صحرااوپاتي ۱۵ په سلوكي زراعتي ځمكي دي ، تقریباً ۲٤ ملیونه نفوس لري..

په لومړي هجري پیړي كي دعربي فاتحینوله خوا ورته اسلام رسیدلي اوبیا دتاریخ په اوږدوكي تركانو اوفرانسویانو پري پیړي پیړي حكومتونه كړي دي ، فرانسویانوخوالجزایر خپله مستعمره نه بلكي دخاوري نه بیلیدونكي برخه بلله، اوپه خپل ټول توان یې داسلام دختمیدوهلي ځلي كړي اوډظلم ریكاردیې

ودرولي دي ولي بیا هم په مختلفو وختوكي مسلمانانو دهغو په خلاف په جهاد لاس پوري كړي اوقرباني یې وركړیدي خوله ۱۹٤۲ عیسوي كال نه وروسته دفرانسویانو په وړاندي منظم جدوجهد پیل اوله شل كاله مبارزي اویوملیون شهیدانو وركولو وروسته الجزایر خپلواكي ترلاسه كړه ، خو دوه كاله نه وو تیرشوي چي دهواري بومدین له خوا چي دسوسیالستي افكاروخاوندو دروس په مرسته دیوي كودتاپه نتیجه كي اصلي انقلابیون اوگڼ اسلامي شخصیتونه زنداني اوالجزایر په یوه سوسیالستي جمهوریت باندي بدل شو، چي دخپلواكي دپلي جبهي له گوند پرته چي دسیاسي فعالیت اجازه یې درلوده ، نوټول تنظیمونه غیرقانوني اعلان شول نه یوازي اسلامي گوند ونوته دفعالیت اجازه نه وه بلكي عامومسلمانانوهم داسلام په گټه خوله نه شواي خلاصولاي ، گڼ شمیر مسلمان مشران نوروهیوادوته په هجرت مجبورشول . له دي ټولو سره سره چي له یوي خوا پردي پالو واكمنو دمسلمانانو دټكولو لپاره له هیڅ وسیلي نه دریغه نه كوله او سوسیالستي افكاریي تپل اوله پلوه یې په ځنگ كي سیكولر ستانو پواسطه فرانسوي تهذیب چي دپیړیو تیا وروستي مرحلي ته رسیدلي ترویج كیده ، خو بیا هم مسلمانانو دملت په وړاندي خپله وظیفه ترسره كړه ، په پټه اوښكاره یې داسلام ددعوت او بلني كاریرمخ بیوه ، زندانونه یې قبول كړل ، شكنجي یې ومنلي لیكن دعوت یې پرینښود ، ترڅو سوسیالست واكمن اوپه سركي یې شاذلي بن جدید (دالجزایر اوسني جمهوررئیس) پدي مجبوركړل چي دمسلمانانو دفشارله امله په ۱۹۸۸ كال په هیوادكي داصلاحاتولپاره ریفرندم وكړي . په ریفرندم كي په سلوكي ۹۲ خلكو داصلاحاتو په پلوي رایه وركړه او ورسره جوخت اسلامي گوندونو ته هم دفعالیت اجازه وركړه شوه ، څه موده وروسته داسلامي نجات جبهي مشر عباس مدني په ۱۹۸۹ كال كي اعلان وكړچي دهغه پارټي چي له كلونو كلونو وروسته یې دښكاره كاراجازه ترلاسه كړه په ځرگنددول په ملت كي داسلام لوري ته دبلني كاربیل او داسلامي شریعت دحاكمولو وعده یې وركړه دالجزایر ملت دپردیو نظریواو پردي پالو واكمنوڅخه دومره ستړي شوي و و چي داسلامي جبهي دعوت ته یې په ډیره خوښي لبیك وویل ، دنارینه وترڅنگ ښځوهم داسلامي شریعت اواسلامي حجاب غوښتنه كوله له همدي امله له یوكال فعالیت وروسته مسلمانانو دالجزایر په بلدیاتي

انتخاباتوكي ډنولو رایو په سلوكي ٦٠ ترلاسه كړي اودلومړي ځل لپاره یې واكمن گوند كمزوري ته متوجه كړ ، داسلامي جبهي دغه بري كه څه هم سیاسي نه و ولي سیكولر اواستعماري قوتونه یې ولړزول اوپه الجزایر كي یې د دوي په اصطلاح دبنیادگرومسلمانانو دراتلونكو بریو دمخنیوي لپاره دلازمو تدبیرونو غوښتنه وكړه ټولو اسلام دښمنو ځواكونو په خپل سهم هڅه وكړه چي مسلمانان دالجزایر دخلكو په ذهنونكي وټكوي اوډراتلونكي بري په لاركي یې خنډ شي دامریكا اوانډیوالانو تبلیغاتي چینلونه له یوه پلوه اودشاذلي بن جدید زندانونه له بل لوري دمسلمانانو په خلاف پرانستل شول توطیې اوسازشونه پكار ولویدل، په مظاهرو او جلسو باندي دامنیت دخرابیاپه نامه بندیزولگید، دمسلمانانو غوره مشران اود اسلامي جبهي په زرگونو پلونكي په ځانگړي توگه دهغه مشرعباس مدني اومرستیال علي بلحاج هم په زندانونو كي واچول شول چي دملي امنیت ضد اقدام په تور ترمحاكمي لاندي هم ونیول شول .

شاذلي بن جدیداوصدراعظم یې دپردو یاداراتو په اشاره ورروستي هڅه وكړه چي اسلامي جبهه په انتخاباتوكي له گهون نه منع كړي اوبیایې دملت په ذهن كي وټكوي، ولي دي هیڅ شي گټه ورته ونه كړه . اسلامي جبهي په داسي حال كي په انتخاباتو كي برخه واخیسته چي اكثرمشران یې په زندانوكي پراته وو . دالجزایر باشعوره ملت خپله خبركي وښووده اودواستعماري خواكونو او پردوپالو په خلاف یې اسلامي جبهي ته رایه وركړه اوواكمن گوندیې ددیرش كاله پرلپسي حكومت كولو سره سره له داسي ناكامي سره مخامخ كړ چي له شرمه یې تو نشي اخستلاي دانتخاباتو په لومړي دوركي واكمن گوند ، ۲۵ اعلان شوو څوكیو نه یوازي ۱۶ ترلاسه كړي، هغه هم كیداي شي له ډیرولاسوهنو وروسته یې گټلي وي ، دي انتخاباتو ښه ځرگنده كړه چي راتلونكي دي داسلام ده اوهیڅ شي هم داسلام په وړاندي نشي خنډكیداي .

داسلامي جبهي دي بري یوځل بیا پردي پال اواستعماري قوتونه دمسلمانانو په خلاف اتحاد ،توطیواوسازشونوته هڅولي په ناروا تبلیغاتو یې پیل كړي . څوك وایي دادډیموكراتیكو قوتونو ماتې ده ، څوك وایي دا دبشرو حقوق له منځه وړي، څوك وایي دایه دامنیت لپاره خطروږي اوڅوك یې هم دسیمي دهیوادولپاره دمشكلاتو زیږنده بولي، ان چي ددي ویره شته چي په همداسي بهانو اوپلمو جوړولو سره دانتخاباتو دویم پړاو وځنډوي اوبایه مصنوعي كودتاپواسطه داهرڅه په اوبو لاهو كړي ، ځكه داخبره اوس ترلمر روښانه ده چي كفري اوسیكولر ځواكونو دخپلو گټو لپاره هري روا اوناروا وسیلي ته لاس كوي، اواوس چي امریكا هم دمسلمانانو دتبارز اوبیاوړتیا څخه په ویره كي ده اوله شوروي نه له بیغمه كیدو څخه وروسته اسلام دځان لپاره لوي خطر بولي، نوكیداي شي خپل گوډاگي دغه ډول كارونوته وهڅوي په ځانگړي توگه چي دالجزایریه گاونډ یو هیوادولكه تونس ، المغرب اومصركي سیكولراوغربي پاله حكومتونه دي اوجوخت ورسره په همدي هیوادوكي هم غښتلي اسلامي غورځنگونه په فعالیت لگیادي چي دهغو په واكمنیدو سره د افریقا په شمال كي یوه غښتلي اسلامي اتحادیه رامنځته كیداي اودامریكا گټي سكروټي كیږي . سودان لاپخوا دي كارته تیار اوداسلامي شریعت دنافذیدو لپاره هلي ځلي كوي .

هیله ده چي ډیرژربه الجزایر په یوه اسلامي سوكاله اوپرمختلونكو ، لاړهیواد چي اسلامي نظام په كي نافذوي تبدیل اودآزادي په ارگي دیوملیونومسلمانانو شهیدانو ارمان به ترسره شي بلي : دالجزایر داسلامي جبهي بري كه له یوي خوادغیراسلامي اړخونو زړونه خپه اوهیلي یې ناهیلي كړي خوله بل پلوه یې پخپله دالجزایر اوګاونډیو هیوادولپاره په ځانگړي توگه اودعالم اسلام لپاره په عامه ډول داسلام درون سباوون امیدونه راپیدا كړل ، ان شاء الله ډیر ژربه په تونس، المغرب، مصر، لیبیا، نایجراونورو عربي او اسلامي هیوادوكي اسلامي تحریكونه بریالي كیږي او دامریكا په وړاندي به داسلامي نړیوال ځواك دجوړیدو لاره اواروي . انشاء الله

احیاونشأت اسلام درالجزایر

ترجمه :- سید غلام فاروق وحدتیار

گرچه غرب وامریكا ادعادارند كه درجنگ سردیكه میان این دونظام متضا د كمونیزم وسرمایه داري ازدیر زماني جریان داشت، آنهابرنده شده اند ومستقبل جهان ازآنهاست . به همین دلیل امریكا برنامه جدید جهاني خویش راوسیله قرارداده، خیال پوچ ومیان خالي حكومت بالاي همه جهان رابسرمي پروراند . لاكن بایك نظر دقیق دركشورهاي سرمایه داري ثابت مي گرددكه مسایل بیشماراخلاقي، اجتماعي، سیاسي واقتصادي بیخ و بن این نظام راچنان‌ست وناتوان نموده است كه دیگرپراي درهم ریختن وازهم پاشیدن آن جهانیان نیازبه انتظار زیاد ندارند .

آنچه اكنون انظار جهانیان رابطرف خودجلب مي كند اینست كه بعداز اضمحلال ودرهم ریختن كمونیزم ونظام سرمایه داري غرب چه نوع نظام خلاي سیاسي واجتماعي یي راكه بارخت سفربستن این نظام هابوجودمي آید،پرمي كند؟ گرچه دربادي الراي جواب این سوال مهم وپیچیده به نظرمي آیدولي دانشمندان وكسانیكه مسایل راعمیق بررسي مي نمایند بوضوح درك مي كنند كه جزاسلام هیچ نوع نظام دیگرقادر نیست این خلاراپركند . این حقیقت پیروان مكتب اصیل اسلام راهوشیارباش مي گویدكه بیدارشده و تلاش هاي خودرا دررابطه با احیاونشأت مجدد اسلام سریعترنمایند . زیراحمل این بارگران كارآساني نیست . حل وفصل مسایل سیاسي، اجتماعي واقتصادي دورجدید درروشني رهنمود هاي اسلام ، سال ها عرق ریزي وپشت كارضرورت دارد . اما اوج گرفتن این آرزومیان امت مسلمه كه یكبارديگرمي خواهند درزندگي انفرادي واجتماعي خویش حكومت اسلام رامشاهده نمایند امید بزرگي است كه ازدشواري این كارتاحدي مي كاهد .

گویا اینكه درتصورات مسلمانان انقلاب آمده دیگرآنها خودرا ازتسلط نظام هاي كمونیزم وسرمایه داري آزاد تصوركرده وهرآن منتظر اندكه چه وقت اسلام عزیز جاي این نظام هاي فرسوده وكهنه را اشغال مي كند وچون آفتاب جهانتاب یكباردیگر درافق جهان طلوع مي كند .

چنانچه نتایج انتخابات درباردن وانتخابات نمایندگان شاروالي درالجزایر درسال گذشته وانتخابات پارلماني اخیر درالجزایر كه درآن جبهه نجات اسلامي (اسلامیك سالویشن فرنت) برهبري عباس مدني اكثریت قاطع بدست آورد شواهد زنده بیداري امت واین انتظار بشمارمیرود .

این نتایج بویژه كامیابي هاي اخیر مسلمانان درالجزایر غرب وامریكا را تكان شدیدي داده به آنها گوشزد نمودكه ازخواب غفلت بیدارشوند وبخود آیند وخیال هاي پوچ ومیان تهي حكومت بالاي جهان را ازسردوركنند كه دیگر مانند كمونیزم براي نظام سرمایه داري نیز دردنیا جاي پاي وجودندارد .

این خبر گوینده وخورد كننده درست زماني بگوش غرب رسیدكه آنهاهنوز ازجشن شكست واضمحلال كمونیزم فارغ نشده بودند ، چنانچه كامبابي اخیر مسلمانان درالجزایر خوشي ومسرت غرب رابه غم واندیشه تبدیل نمود . اكنون دانشمندان ودانشوران غرب وامریكا پریشان اندكه اسلام باسرمایه داري نبرد آزماگردیده است .

براي درك تحولات سیاسي اخیر درالجزایر بهتراست پیرامون تاریخچه سیاسي وجدوجهد آزادي خواهي آنكشور مختصرا معلومات داشته باشیم .

درست سال ۱۸۲۷ م بودكه میان فرانسه والجزایر برسرتهیه روغن اختلاف ایجاد گردید، درحالیكه تلاش هاي رفع نزاع میان طرفین جریان داشت حكمران الجزایر داعي حسین سفیر فرانسه رالت وكوب نمود فرانسه كه ازدیرزمان چنین فرصت را انتظارمي كشید اطراف بندرگاه الجزایر راتوسط كشتي هاي خودمحاصره نمود. این محاصره سه سال دوام داشت . مردم الجزایر باوجودمقاومت زیاد به شكست مواجه گردیدند وازهمین جا عهد غلامي واسارت الجزایر آغازمي گردد .

مردم الجزایر به اسارت وغلامي تن نداده دیري نگذشت كه ازهرگوشه وكناركشور سروصداي آزادي خواهي بلند گردید . مردم قرباني هاي زیادي دادند ، درین دوران قیادت مبارزات آزادیخواهي راشخصي بنام عبدالقادر الجزایري بدوش داشت . وي اختلافات سران قبایل الجزایر را دورنموده آنهارادریك صف علیه دشمن جمع نمود .

بعدازیك سال جنگ حكومت فرانسه مجبور گردید عبدالقادر راحاكم مسكره قبول نماید. مگر سال آینده جنگ دوباره گرم شدوایتبار جنگ سیزده سال دوام كرد. عبدالقادرتاب مقاومت عساكر فرانسه راكه باجدید ترین سلاح روزمسلح بود نیاورده به عقب نشیني مجبورگردید .

باشكست عبدالقادر فرانسه بالاي تمام الجزایر مسلط گردید ، آن راجزخاك خود قرارداد . ولي جدوجهد آزادیخواهي خاموش [illegible]

[illegible] ۱۸۷۰م به مسكن گزیني درمناطق ساحلي الجزایر آغاز كردند زیرا [illegible] زرخیز این مناطق [illegible] ها ساز گاربود .

حكومت فرانسه رسما اعلان داشت كه اتباع فرانسوي میتوانند درالجزایر اراضي خریداري نمایند چنانچه دراندك ترین مدت یك ملیون نفر ازاتباع فرانسه درالجزایر جابجا گردیده ثلث اراضي زراعتي این كشور را خریداري نمودند . چنانچه زمانیكه الجزایر به آزادي خویش نایل گردید پنجاه وپنج درصد نفوس رافرانسوي هاتشكیل میداد .

درین دوران الجزایر ترقي وانكشاف خوبي هم كرد. اراضي آن آباد وزراعتي گردید . سرك ها، پل ها ، خطوط آهن و ساختمان هاي سرفلك هرجااعمار گردید ولي ازتمام این سهولت ها صرف فرانسوي ها استفاده مي بردند ومردم مسلمان الجزایر یكسره ازآن محروم بودند .

درجنگ اول جهاني باوجود ظلم فرانسه بالاي مردم الجزایر مردم اینكشور ازفرانسه پشتیباني نمودندویا قواي فرانسوي درجنگ شركت كردند . ولي بایابان جنگ الجزایركماكان دراسارت وغلامي باقي ماند .

بعدازجنگ دوم جهاني حكومت فرانسه به مردم الجزایر حق راي دهي قایل گردید ولي الجزایري ها جزبه آزادي به چیزي دیگري هرگز راضي نبودند .

سال ۱۹٥٤ م بودكه جبهه ملي آزادیخواه به مبارزات آزادیخواهي آغازنموده علیه فرانسه اعلان جهادكردكه تااستقلال الجزایر ادامه داشت . حكومت فرانسه عساكر تازدم مجهزباسلاح جدیدیكه از امریكابدست آورده بود بطرف الجزایر سوق دادوازطرف دیگرتلاش ورزیدكه مردم الجزایر را متقاعد سازد به اینكه ازمبارزات شان دست بكشند ولي این تلاش ها كاري بجانیاورد .

درین دوران مردم الجزایر یك ملیون نفرقرباني دادندولي از جهاد خویش دست نكشیدند .

بالاخره حكومت فرانسه مجبور گردیدبه آراي مردم فرانسه والجزایر رجوع كندوازآنها دررابطه باآزادي الجزایر مشوره بخواهد. درین همه پرسي یك ملیون وهفتصد هزار ازاتباع الجزایر ازآزادي پشتیباني خودرا اعلان داشتند درحالیكه هفتصد وپنجاه هزاردیگر راي مخالف دادند وازجمله مردم فرانسه پانزده ملیون آراي خویش را به دفاع ازآزادي وپنج ملیون دیگربه مخالفت ازآن راي دادند .

همین همه پرسي گویا آغاز آزادي الجزایر ازاسارت فرانسه بود. چنانچه حكومت فرانسه به تاریخ ۳ جولاي ۱۹٦۲م آزادي این كشور رااعلان داشت والجزایر رابه مجاهدین تسلیم نمود .

یكسال بعد در ۱۹٦۳م براي تعین رئیس جمهوردرالجزایر انتخابات براه انداخته شد واحمدبن بلابحیث رئیس جمهور آنكشور انتخاب گردید .

اودرمبارزات آزادیخواهي الجزایرنقش عمده داشت وازعلمبرداران نظام اسلامي بشمارمیرفت لذا درقلب مردم الجزایر جاداشت . تامبرده دردوران مبارزات آزادیخواهي مدت پنج سال ازطرف فرانسه زنداني هم شده بود . احمدبن بلا زمانیكه درزندان بسرمیبرد ازهمانجابه رهبري مبارزین الجزایر میپرداخت .

این زماني بودكه مبارزات مردم الجزایر به ثمررسدونظام اسلام درین كشورنافذ گردد ولي طوریكه بارها تكرارگردیده كه نیروهاي استعماري درمراحل حساس ، انقلابات مردمي رابایكاربستن توطیه هاوسازش هاازخط اسیرش منحرف نموده وزمینه را براي حصول اهداف شوم خود مساعدساخته است ، درین مرحله نیز چنین شد . چنانچه درسال ۱۹٦٥م یكي ازنوكران وغلامان حلقه بگوش روسیه بنام بومدین طي یك كودتاي نظامي احمدبن بلا راخلع وخود براریكه قدرت تكیه زدویك حكومت نظامي را درالجزایر اعلان كرد وي نه تنها حكومت رانظامي اعلان كرد بلكه بعداز آن پیهم براي نفاذ سوسیالیزم دركشور تلاش ورزید . ولي بومدین بعدازیك مریضي طولاني در سال ۱۹۸۷ م چشم ازدنیاپوشید. بعدازوي منشي عمومي حزب جبهه آزادیخواه ملي كه درآن وقت یگانه حزب قانوني كشور بشمارمیرفت (شاذلي بن جدید) براریكه قدرت تكیه زد . درزمان اواحمد بن بلا باني الجزایر كه چهارده سال درخانه خودتحت نظارت دولت قرارداشت رهاگردید وواردفرانسه شد . وي تاحال درفرانسه بسرمیبرد .

این حزب بیست وهشت سال تمام درالجزایر حكومت كردولي حكومت آن به مردم الجزایر جز عقب ماندگي، گراني وبي روزگاري چیزي دیگرنبخشید . مردم ازین اوضاع به تنگ آمده بالاخره درسال ۱۹۸۸م به خیابان هاوسرك ها روي آوردند ودست به تظاهرات وراهپیمایي علیه حكومت زدند گرچه حكومت درابتدا ازظلم وتشدد كارگرفته تلاش ورزید تا هجوم مردم را پراگنده نمایدولي مردم باوجود مظالم وخشونت حكومت به مقاومت خودعلیه دولت ادامه دادند ، این اوضاع حكومت را وادارنمودتادست به یك سلسله اصلاحات به نفع مردم زند چنانچه بتاریخ ۳ نومبرسال ۱۹۸۸م فعالیت احزاب سیاسي قانوني اعلان گردید، مطبوعات آزادشدوازین قبیل اصلاحات دیگر .

الجزایر ي ها ازین فرصت استفاده نموده بطرف احزاب اسلامي روي آوردند. درین دوران ازجمله بیست حزب جدید سیاسي كه تشكیل گردید حزب نیرومند، مقبول ومنظم اسلامیك سالویش فرنت (جبهه نجات اسلامي) بود. این حزب كه تاآخرغیروابستگي خود راحفظ كرد دراندكترین فرصت میان قشرجوان درمكاتب، دانشگاه ها ومجامع علمي هواداران زیادي پیدا كرد .

درراس این حزب عباس مدني قراردارد كه تاحال درزندان بسرمیبرد .

نقش پاداش علمی ومشورتی اداره

داکتر فیض الله کاکړ — قسمت دوم

بلکه شما پشتکار، خلوص نیت و ابتکار آنها را جداً تقدیر میکنید.

برای تقویه، حس وفاداری و اعتماد متقابل راههای تبادل افکار بین خود و مأمور را همیشه باز نگه دارید. موفقترین مؤسسات و منظمات آنهائی اند که مأمور/کارگر خود را بصورت مداوم از پالیسیها و اهداف خویش مطلع نگه میدارند. برای اینکار در جلسه های بین مأمورین و مدیران و اشخاص منظمه، طی وقفه هائی معین پالیسیها و تغییرات تشریح گردند؛ مشکلات پرسیده شوند و برای حل آنها قدمهای جدی برداشته شود تا در آینده مأمور وعده های شما را جدی گرفته باور کند. یکی از بزرگترین مشکلات برخی از منظمات آنست که وعده های ناسنجیده شده، متعددی را به اعضاء و مردم میدهند که یکی را هم عملی کرده نمیتوانند. این کار باعث سقوط اعتماد از یکطرف و کاهش احساس وفاداری در مأمورین و اعضاء از طرف دیگر گردیده، بدون شك نتائج نامطلوبی در بر خواهد داشت.

باید کوشید تا پروگرامی معین داشت که همیشه معلومات مسلکی (هر ساحه) و اداری مأمورین شما رو به ازدیاد باشد. اینکار علاوه بر محاسن عدیده، باعث تقویه، احساس وفاداری درمأمورمیگردد. مؤسسات و منظمات با تجربه آموخته اند که ضرر و مصارف جهالت و بیمعلوماتی مأمورین و اعضاء، بمراتب بیشتر از مصرف آموزش آنهاست. لذا، تعدادی از مؤسسات با درنظر داشت اضرار داشتن مأمورین جاهل و یا در نظر داشت مصارف تعلیم و تربیه، اشخاص، مأمورین فنی را به قیمتهای هنگفتی باصطلاح خریده با معاشات بلند آنها را استخدام میکنند و اینکار را بنفع مؤسسه، خود میبینند. شکست مؤسسات رقیب از همین راه ممکن است. مؤسسات زیرك اشخاص تعلیم دیده و فنی مؤسسات رقیب خود را با لطائف الحیل به مؤسسه، خود یا جای دیگر کشانیده، قحطی افراد فنی و لایق و در مؤسسات رقیب را به بحرانهای مختلف میکشانند. یکی از عوامل کاهش حس وفاداری آنست که مأمورین فکر کنند که در پرداخت معاشات و امتیازات معیارهای غیر از اهلیت وفاداری وخلوص نیت مطرح است. خیلیها باید کوشید که معاشات مطابق یك معیار درست و بدون کدام تبعیض نامعقول باشد.

هـ- مدیر باید بکوشد تا فعالیت مفید، معقول و سنجیده، کارگر/مأمور را پاداش دهد نه مصروفیتهای بیهدف و بی سنجش او را. یادم هست که یکی از برادران مجاهد گفت "فلان مأمور "انجمن تحقیقات" خیلی خوب کار میکند." پرسیدم "چطور؟" گفت "همیشه مصروف است". اگر مأمور موصوف این تحسین را بشنود برای او این یك پاداش است و خواهد کوشید که خود را همیشه مصروف وانمود کند. اما مصروف بودن و کار درست انجام دادن خیلیها از هم فاصله دارد. اگر کارفرمائی بخواهد مأمورینش همیشه مصروف باشند، آنان مصروف خواهند بود. ولی بهتر آنکه از مأمور حاصل وثمر کار بخواهد نه صرف مصروفیت. اگر مدیر از مأمور نتیجه و حاصل آرزو کند و کسانیرا که نتائج کارشان دارای ثمرات بیشتر/خوبتر است، پاداش بدهد؛ مأمورین خواهند کوشید که ثمرزای باشند نه اکتورها. پرسونل اداره، تانرا رهنمائی کنید که برای کارهای روزمره، خود پلان و پروگرام داشته و کار شانرا خود روزانه یا هفته وار بررسی کنند.

برای بدست آوردن نتیجه، بهتر در کار نکات آتی باید مراعات گردند:

۱- کار را به اهل آن بسپارید و باید بدانیم که اهل کار کیست؟

اگر بخواهیم کسی را استخدام کنیم تا در شفا خانه، ما وظیفه جراحی چشم را انجام دهد، برای اینکار جراح تعلیمدیده درفن جراحی چشم مورد نیاز است. اینکار از داکتر قلب یا دندان ساخته نیست چه رسد به کسیکه که تعلیم وتجربه، او در امور بیرون از طب مثلا اقتصاد باشد. اهل کار کسیست که درکار مخصوصي که برایش سپرده میشود مهارت و شخصیت شایسته، آنرا دارا باشد. پس یك نفر زرگر برای کار خیاطی اهل نیست و ممکن دکتور حقوق و سیاست برای تعمیر سرکها شخص نامطلوبی باشد.

سپردن کار به اهل آن از نظر اسلام از ارزش خاصی برخوردار بوده، رسول اسلام (ص) از عواقب سهل انگاری دریتکار بالخصوص در مسائل مهم، اینگونه هشدار میدهد : اذ اوسد الامر الی غیراهله فانتظر الساعة —وقتی کار به غیر اهل آن سپرده شود منتظر قیامت باش".

مفسرین این هدایت قرآنی را که إن الله یأمرکم ان تودو الامانات الی اهلها —- هر آئینه خدا به شما امر میکند که امانات را به اهل آن بسپارید، شامل سپردن وظائف به اهل آن نیز میدانند.

۲- بعد از انتخاب اهل کار، افزار مخصوص، کارضروریست. بدون سامان لازم جراحی چشم، جراح لایق هم نمیتواند کار را درست انجام دهد.

۳- وظائف پرسونل یك اداره باید تنظیم و نوع وساحه، کار هر مأمور باید واضحاً برای او ابلاغ گردیده باشد. در غیر آن مشکلات، ضیاع وقت، انجام یك کار توسط دونفر، ایجاد میگردد.

٤- خیلیها مهم است که مأمور بفهمد چگونه کار بخصوص را که او انجام میدهد برای هدف عام مؤسسه/منظمه، او مفید است. اهمیت این نکته در آنست که از طرفی باعث تقویه، روحیه، مأمور میگردد زیرا معنی اهمیت کار خود را درك میکند و از جانبی حس ابتکار را در او را بیدار میسازد. در عین حال مأمورمیداند که کار خاص او چگونه باعث بهدف رسیدن مؤسسه/منظمه، مربوطه میگردد. لذا با دیگر مأمورین احساس همنوائی و تشریك هدف کرده باعث اتحاد کارگران و مأمورین میگردد.

و- باید کارگران تشویق شوند که آنچه در کارهایشان غیر ضروری و اضافی است آنرا دور سازند. مدیر نباید به کسانیکه کارها را مغلق و پیچیده میسازند پاداش دهد. بلکه آنها را رهنمائی و تشویق کنید که پیچیدگی و مغلقیت که باعث کندی و بطالت در اجراء کارها میگرد آنرادور سازند. هر مأمور باید از خود بپرسد که چه نتیجه ای بر کار من مترتب میگردد؟ حاصل کار من برای چیست؟ من چه کاری انجام میدهم که غیرضروری و اضافی است؟

بیروکراسی یا دیوانسالاری به مفهوم عام، آن مهمترین عامل عقیمانی در کار است. تورم در تشکیلات یك اداره و تقرر پرسونل بیشتر از ضرورت، موفقیت اداره را بمخاطره میاندازد.

بهر اندازه ایکه سلسله بین مدیر و مأمور طولانی میگردد بهمان اندازه کارگر یا مدیر از تماس و تفاهم محروم میماند که این امر باعث ایجاد مشکلات عدیده ای میگردد. زیرا تصمیم را مقام بالا میگیرد درحالیکه او از اصل کار و مأمور دور افتاده و در بین مدیر و مأمور چند شخص دیگر قرار دارند. پس مدیر کمتر ازجزئیات کار مستقیماً مطلع میگردد. باید در جهت کاهش طبقات اداری حتی الامکان کوشید. باید دیده شود که چند قدم باوجود چند امضاء ضروریست تا درخواستی یك پیاده برای خریدن یك قفل منظورگردیده و قفل خریده شده بر دروازه نصب شود. ببینید آیا تمام این قدمها و امضا ،ها ضروری اند؟ آیا میتوان برخی از آنرا حذف کرد؟ گفته اند هر قدر دزدی و اختلاس بیشتر باشد، اعتماد بر اشخاص کمتر میگردد و بهمان پیمانه مدیران مجبورند کارها را مغلق بسازند تا دزدي و حق شکنی را کم بسازند. ولی باید متوجه بود که اجراء کار را آنقدر مغلق نسازیم که برای جلوگیری از دزدیدن یك تخته کاغذ، نوشتن مکاتیب فوق العاده ضروری را آنقدر بتعویق بیاندازیم که ضررش معادل میلیونها تخته، کاغذ باشد.

ز- نباید مانع ابراز جرئت معقول و اسلامی مأمور گردیم، بلکه مأمورین تشویق گردند تا درکار با جرئت و خطر پذیر بوده، نظرات و پیشنهادات شانرا برای رفع نقائص و بهبود کار آزادانه ارائه نمایند.

یکی از علماء اداره میگوید مردی که به پیش میرود در حقیقت کسیست که جرئت تقبل خطر را دارد. پس از امتحان مدیران موفق وغیرموفق دیده شد که خاصه، شخصیتهای مدیران موفق، جرئت پا نهادن در عرصه، پرمخاطرات بود. مدیرانی در کار خود زیاد موفق نبودند که بیشتر در فکر آرامش و امنیت خود بوده، میکوشیدند نشان دهند و لاف زنند که در کارخود موفق هستند و زیر دستان هم جرئت خرده گیری بر آنان ندارند.

برای اینکه کارکنان شما به خطرپذیری و داشتن جرئت معقول تشویق گردند لازم است فضائی بوجود آید که در آن کارکن از جرئت داشتن در کارها نترسد، بتواند جرئت کند و از اشتباه خود بیاموزد. برای تعمیل اینکار نکات ذیل قابل یادآوری اند:

بکارکنان بیاموزید که سهو زیرکانه کردن جزو قیمتی است که برای پیشرفت در زندگی میپردازیم. کسانیکه هیچ کار نکنند سهوی نیز در مرتکب نمیگردند. مهم آنست که انسان از سهو خود بیاموزد و به پیش رود. مردم را بخطر پذیری ماهرانه و هشیارانه باید تشویق کرد نه به خطر پذیریهای غیر عاقلانه و غیر اسلامی. در حدیث شریف آمده که "مؤمن از یك سوراخ دو مرتبه گزیده نمیشود." این مطلب میرساند که انسان از سهو خود درس بگیرد و نتیجه ایکه از سهوش گرفته برای همیشه او را از تکرار آن باز دارد. لذا لازم است که قبل ازجرئت به یك کار، هدف ما از آن کار واضح باشد و بدترین نتیجه، آنرا نیز در نظرگرفته باشیم. منافع و مضار عمل خود را دردقیقاً بسنجیم و در صورت مضیقه، پلان برآمدن از آنرا نیزداشته باشیم. جرئت در کار لازم است با ابتکار در عمل یکجا باشد. لذا باید قوه، خلاقیه، ابتکار مأمور را نیز تقویه کنیم.

۸ - تشویق مأمور به ابتکار در عمل یکی از عوامل عمده، پیشرفت کار مؤسسه /منظمه بشمارمیرود. ولی بسیار اند مؤسسات/منظماتی که متوجه قیمت ابتکار نیستند. در سال ۱۹۷٦، در یکی از شرکتهای کمپیوتر سازی امریکائی، کارگری از کار خود خسته شده و میخواست کمپیوتر بهتر و سریعتری بسازد. نظر ابتکاری خود را سه بار به رئیس مؤسسه ارائه کرد. ولی هر بار پیشنهادات وی رد گردیده، گفته شد که نظرش جنون آمیز است. کارگر ازین برخورد رئیس آزرده خاطر گردیده راهی منزلش گردید و به پیاده کردن ابتکار خود پرداخت. بزودی کمپیوتری ساخت که نام آنرا اپیل (سیب) گذاشت که انقلابی عظیم درجهان کمپیوتر بشمار رفته و درهر گوشه و کنار دنیا ازین کمپیوتراستفاده بعمل میآید. مقاله ایرا که میخوانید نیز توسط همین نوع کمپیوتر طبع گردیده است. امروز آن مخترع یکی از بیلیاردرهای مشهور جهان است. این مثال باید واضح سازد که مهمترین سرمایه در یك مؤسسه/منظمه اسعار پولی آن نبوده بلکه عبارت از اشخاص مبتکر و مخلص میباشد که نظر و قضاوت سالم و ابتکار ارزنده دارند.

ادامه دارد

اسلامي حکومت څنګه جوړېښت مومي

قريب الرحمن "سعيد" په تبريسي

ددي ورووسته دريمه مهمه مسئله په اسلام کي دحکومت شکل اوځرنګوالي دي. کله چي موږ په دي هکله دراشدينو خلفاوو وخت ته کتنه وکړو نوموږ ته څرګنديږي چي په هغه وخت کي اميرالمومنين هغه څوك وو چي دسمع اواطاعت (اوريدو اومنلو) بيعت به ورسره کيده اوهغه چي خلکوبه باوري بياموند اودخپل ټولنيز ژوند ډيري مهمي معاملي يعني دحکومت واګي به يې ورسپارلي. هغه دانګلستان دباداشاه، دفرانسي دصدر، دامريکي، صدر اودروس دستالين او ... څخه پوره فرق درلوده هغه به يواځي درياست صدرنه ؤ بلکه دوزيرانو رئيس به هم پخپله و هغه په پارلمان کي پخپله ګډون کاوه اوپخپله به ئي دپارلمان صدارت هم کاوه بيا به هغه په بحثونو کي پوره پوره برخه هم اخستله. او دخپل حکومت دکارونو په هکله به ئي ځواب ورکاوه. هغه به خپل حساب پخپله ورکاوه، دهغه په پارلمان کي نه کوم حکومتي ګوند و اونه دهغي مخالف ټول پارلمان دهغه ګوندو. که دحق په مطابق به ئي تګ کاوه نو ټول پارلمان به ورسره و، او که چيري دباطل په لوربه کوږ په نظر راغي ټول پارلمان به ئي په مخالفت کي دريده. دپارلمان هرغړي آزادوچي په کومه معامله کي ورسره اتفاق وکړي اويه کومه يله کي ورسره اختلاف وکړي.

ان ترديچي خپلو وزيرانو به ئي کله کله په پارلمان کي دهغه په خلاف خپله رايه ورکوله. تو ددي اختلاف سره سره بيا هم هغوي په خپلو وزارتونوکي کارکاوه دهيچادمستعفي کيدو سوال هم نه پيداکيده. خليفه يواځي دپارلمان ترمنځ ځواب ورکونکي نه و بلکه دټول قوم ترمنځ به ئي دخپل هرکار اوان ترديچي دخپل شخصي ژوند په معاملاتوکي ځواب ورکونکي و. هغه به په پنځه وخته لمانځه کي دخلکو ترمنځ و. دهري جمعي په ورځ به ئي دخلکو ترمنځ وينا کوله. اوخلکوبه هغوي په خپلو کوڅوکي هره ورځ په تګ راتګ ليده دهغه نه ئي پوښتنه کولي شوه خپل حق ئي تري غوښتلي شو اوان ترديچي په عامو غونډو کي تري هرچا پوښتني کولي شوي هغوي داسي کوم اصول نه درلودل چي که چيري دحکومت په هکله کوم سوال وي نو دپارلمان دکوم غړي دلاري ئي دهغي اصولو اوقواعدوپه مطابق بايد وپوښتل شي. هغوي داعام اعلان کاوه چي:

ان احسنت فاعينوني وان اسأت فقوموني ... اطيعوني ماطعت الله ورسوله فأن عصيت الله ورسوله فلااطاعة لي عليکم. (الصديق لمحمدحسين هيکل - ٦٧ مخ)

که چيري زه صحيح کاروکرم توزما مرسته وکړي اوکه چيري بده رويه مي اختيارکړه نوماته سمه لاروښيي ... ترهغه چي زه دالله (ج) اودهغه درسول اطاعت وکړم توزما اطاعت وکړي اوکه چيري زه دالله (ج) اودهغه درسول نافرماني وکړم نوبيا زما له پاره په تاسي هيڅ دول اطاعت نه شته.

داهغه ډول حکومتي طريقه وچي دنني وخت په اصطلاحاتو کي وړياندي هيڅ ډول اصطلاح نه شي تطبيق کيداي، اوداسلام دطبيعت سره په پوره توګه مناسب اوزموږ دفکريه وي خوداپه هغه صورت کي ممکنه ته دانلاي شي چي ټولنه په مکمله توګه داسلام دانقلابي حکم مطابق جوړه شوي وي. همدا علت دي چي کله هم په ټولنه کي انحطاط راڅرګند شونو دهغي منځته راوړل مشکل وګرځيدل. اوس نوکه موږ بيرته ددي خپل آئيډلي په لور ګرځيدل وغواړو، نودي ته اړتيا ده چي موږ دخپل کاروبيل په خاطر دهغي څخه لطلوريشتيز اصول خپل کړو. اوبيا هغوي ته دخپلو حالاتو اواړتياوو په مطابق عملي کالي وروواغوندو.

لمړي داچي دحکومت مسئوليت چي دهرچاپه غاړه کي ور اچول کيږي نوهغه بايد نه يواځي دعوامو نماينده وي بلکه پخپله هم دعوامو ترمنځ وي. اونه يواځي داچي خپل کاريه مشوري وکړي بلکه دخپلو اعمالوځواب ورکونکي هم وي.

دويم داچي دګوندي سيستم څخه خلاصي وموندل شي. ځکه چي دادحکومت نظام په بې ځايه ګوندګوندبازيوکړوي. ددي ګوندونو په واسطه دامکن ګرځي چي يو خودغرضه ولې په ځواك قبضه وکړي اوبيا دعوامو په مصرف دخپل ځان له پاره حاميان پيداکړي بيا چي خلك هر څومره چيغي سوري ووهي نوبيا به هم همغه دخپلو اختسل شوو حاميانو په واسطه دخپل زړه کوي.

دريم دحکومت نظام په داسي تغښتواوتاورااوتاومادو باندي جوړنه شي چي بيا تري کاراخستونکي نه کارکول اوحساب کونکي نه حساب کول اودخرابيو داصل مسئول مشخص کولو کي تري ستونزي راپيداشي.

څلورم اودټولو اخري بلکه دټولو مهم اصول دادي چي دامراو شوري خاوندان داسي خلك وټاکل شي چي په هغوي کي داسلام منودل شوي صفات دټولو زيات پيداکيږي.

داولي الامر، امير، صفات:

داسلام له نظره په اولي الامرکي دا اوصاف ډيرزيات اهميت لري. ان ترديچي زه داويلي شم چي داسلامي دستور دعملي کولو اونه عملي کولو ټول انحصاريه همدي دي.

دامارت اوشوري دغړيتوب له پاره خواهليت يوشرط پخپله قانوني وي چي دهغي په واسطه يو دانتخاباتو ناظم اويوقاضي دهغي شخص ټول هرڅه دنظره تيروي او بيائي دانتخاب داهل، کيدو ياناهله کيدو پريکړه کوي. خواهليت يوبل شرط هم شته چي دهغي دپه نظرکي نيولو په واسطه داشخاصوچاټول اوپيشنهادول اووټ ورکونکي خپله پريکړه صادروي. لمړي ډول شرط ديوه هيواد دميليونو انسانانو څخه په هريوکي منلو کيدي شي. خودادويم ډول شرط عملا په ډيرلږو خلکو کي پيداکيږي. دلمړي ډول اهليت معيارونه يواځي دقانوني خومادو ددرج کولو په خاطروي. خودي دويم ډول اهليت چي معيارونه ئي قانون په روح کي موجود دي. اوديوه قانون دکاميابيدو انحصارهم په دي کي وي چي دخلکو ذهن تربيه اوداسي تيارکړي چي ترخوهغوي داسي خلك وټاکي چي دقانون په مطابق دهغي اهليت ولري.

قرآن وحديث دادواړه ډوله اهليتونه تربحث اوڅيړني لاندي نيولي دلمړي ډول اهليت له پاره هغه څلور معيارونه ښودلي دي.

۱ - بايد مسلمان وي، لکه چي قرآن کريم فرمائي:

ترجمه :اي دايمان خاوندانو دالله (ج) اطاعت وکړي اودهغه درسول پيروي وکړي او دهغه خلکو چي ستاسي له ولي څخه خاوندان دامردي. د (النساء ...)

۲ - بايد نارينه وي، لکه چي قرآن فرمائي:

ترجمه :سړي په ښځوقوام دي. (النساء ۳۴)

نبي (ص) فرمائي چي:

لن يفلح قوم ولوا امرهم امرأة (بخاري)

هغه قوم به هيڅکله خلاصون اوفلاح ونه مومي چي دخپل کارواګي دېښځي په اورو وربارکړي.

۳- بايد عاقل اوبالغ وي: لکه څنګه چي قرآن فرمائي.

ترجمه :اوخپل هغه مالونه چي الله ستاسي دژوند له پاره وسيله ګرځولي دناپوهه اوليونو خلکو په لاسوکي مه وراچوي. (النساء ٥)

٤ - ددارالاسلام اوسيدونکي وي. لکه چي قرآن په څرګندوټکوکي فرمائي چي

اوهغه خلکوچي ايمان راوړي خو هجرت ئي (دارالاسلام په لور) نه وي کړي، نوتاسي دهغه په ولايت کي هيڅ برخه نه لري، مګرداچي هغه هجرت وکړي. (الانفال-۷۲)

داهغه څلورقانوني صفتونه دي چي دهغي له رويه هرڅوك دامارت او وشوري درکنيت له پاره اهل کيدي شي. خوداسي بې شماره قانوني اهل خلکو څخه موږته په دي مناصبو دټاکلوله پاره کوم خلك راوپستل په کاردي. ددي سوال ځرګندځواب قرآن اواحاديث داسي ورکوي.

ترجمه : الله (ج) تاسي ته حکم کوي چي امانتونه (يعني دمسئوليت منصبونه) دهغوي اهل (يعني مينو خلکو) ته وسپاري. (النساء ٥٨)

ترجمه :ستاسي څخه ترټولو عزتمند هغه دي چي په تاسي کي ترټولو زيات دخدايه ويريدونکي وي. (الحجرات ١٣)

ترجمه :نبي ورېل چي الله (حکمراني له پاره هغه (يعني طالوت) ته په تاسي برتري ورکړي اوهغه ته ئي په جسم اوعلم کي پريماني وريه برخه کړي. (البقره ٢٤٧) ترجمه :دهيڅ داسي چااطاعت ونکړي چي زړه ئي موږ دخپل يادڅخه غافله کړي، اوهغه چي دخپل نفس پيروي ئي اختيارکړي اوهغه چي په خپل کار کي ديولو (حدودو) سره آشنانه وي په من وقرصاحب بدعة فقداعان علی هدم الاسلام (البيهقي)

چاچي دکوم بدعت دځاينډ (توقير) وکړ نوهغه داسلام په بيخ کښلو کي کومك وکړ.

اناوالله لانولي علي عملنا هذا احداً سأله اوحرص عليه (بخاري مسلم)

يخداي چي موږ هيڅ داسي څوك دخپل حکومت په کوم منصب باندي نه ټاکو، چي هغه دهغي غوښتنه کړي وي اويادهغي له پاره حريص وي.

ان اخونکم عند نامن طلبه (ابوداود)

موږته ستاسي څخه ترټولو لوي خائن هغه دي چي په خپله دهغي طالب وي.

ديورتنيو صفاتوڅخه خه موږ په آساني سره دخپل قانون په عملي چوکاټ کي ځاي په ځاي کولي شو. ديبلګي په توګه: هغه چي دمنصب غوښتونکي وي هغه دانتخاب څخه نااهله وګرځول شي. پاتي شو دانورصفات چي دهغوي له پاره کوم قانوني حدنه دي ټاکل شوي نوهغه بايد زموږ دقانون په اصولي لاربښوونوکي ورګډ کړل شي. دانتخاباتو دناظم په فرايضو کي داخبره بايد ورځاي کړل شي چي هغه (هرانتخاب په وخت کي خلك دهغو صفاتو څخه. چي په اسلام کي داولي الامر له پاره ضروري دي، آګاه وساتي.

مشوره داسلام يواهم رکن دي

محمد خليل

مشوره دمؤمن يو غوره صفت شمېرلي شي. دآل عمران په سورة کي دمشوري حکم ورکول شويدي:

ترجمه : اي نبي له هغوي سره پخپلو کارونوکي مشاورت وکړي يعني هغوي هم په مشوره کي شريك کړه. په اسلامي ژوندانه کي مشاورت يواهم رکن دي اولدي نه پرته ټولنيز کارونه سرته رسول نه يواځي جاهلي طريقه ده بلکي دالله جل جلاله دبنودل شوي ضابطي نه تيري هم دي. په اسلام کي مشاورت ته دومره اهميت ولي ورکول شويدي؟ که پدي سوال غور وکړي شي تودري خبري په واضحه توګه زموږمخي ته راځي.

لمړي دکوم کار اړيکي چي له دوويااله دوونه زياتو سړيو له ګټي سره وي په هغه کي ديو سړي پخپل رايي فيصله کول له نوروسره ظلم دي په شريکوکارونوکي هيڅا ته داحق نشته چي دخپلي راي په مطابق فيصله وکړي. انصاف دادي چي ټولو خلك په يوکارکي شريك وي له هغو ټولونه رايي واخستلي شي.

دوهم دا چي يو سړي په شريکو کارونو کي خپله خوښه اوخپله رايه ددي لپاره تحميلول غواړي چي خپل ځان ته ګټه اونوروته نقصان ورسوي، ياداچي خپل ځان ديراوچت اونورشريکان حقيرګڼي. په اخلاقي توګه دادواړه کارونه يوشان بددي. دمؤمن له شان سره دا نه شايې چي هغه دنورو پرحقوقو تيري وکړي اوخپل ځانته ګټه ورسوي اونه متکبراوځان خوښونکي کيداي شي چي خپل ځان دهر چا نه پوه باخبره وګڼي.

دريم داچي په کومو کارونوکي چي نورخلك هم شريك دي اودهغوي ګټي اونقصان دغوکارونوتو پوري تړلي شوي وي په هغه کي فيصله کول يولوي مسئوليت دي، څوك چي له خداي نه ويريږي اوپدي پوهيږي چي دالله په وړاندي به ددي ځواب خامخا ورکوي نوهغه کله هم په يواځي ځان دفيصلي کولوجرئت نشي کولي داجرئت يواځي هغه څوك کولي شي چي له خداي جل جلاله نه نه ويريږي او دآخرت فکريه زړه کي نلري. له خداي نه ويريدونکي اويه آخرت يقين لرونکي خلك خوخامخاداکوښښ کوي چي ټول شريکان دي په مشوره کي راغونډکړي ترڅو دټولورايټو په نتيجه کي يوه صحيح فيصله وکړي شي. او که بالفرض څه غلطي هم وشي نومسؤليت يې يواځي په يوسړي نه بلکي پرټولو يوشانته پريوځي.

دادري وجوهات داسي دي چي که يوسړي وړياندي غوروکړي نودهغه په ذهن کي داخبره ښه راتلي شي چي انسان ته چي اسلام کوم اخلاق ښايي مشوره هم ددي اخلاق يولازمي جزدي او لدي نه سرغړاونه يوه لويه بداخلاقي ده چي اسلام ورته کله هم اجازه نه ورکوي. داسلامي ژوند غوښتنه داده چي دمشاورت اصول ټولو ټولنيزومعاملاتو کي نافذ کړي شي. دکور،

په معاملاتو کي بايد ښځه اوخاوند دواړه مشوره وکړي کله چي هلکان ځوانان شي نوهغوي دي هم په مشوره کي شريك کړي شي، که دکلي اوقبيلي خبره وي نو په هغه کي دي ټول عقل من اوپوه خلك په مشوره کي شريك کړي شي. همداراز په قومي اوملکي مسائلوکي بايد دټولو وګړوورضااوخوښي په ذريعه يواسلامي اميرمقررکړي شي اوهغه دي بيا دمسائلو دحل کولو لپاره دملت دهغوکسانو څخه مشوره واخلي چي دراي ورکولو اهل وي. اميردي ترهغه وخته پوري دامارت دنده اداکړي ترڅو چي ملت يې غواړي. يو ايماندار شخص کله هم داتصورنشي کولي چي هغه دي په زور اوجبر دملت سرپراه اومشرجوړشي ددي تصوريواځي هغه څوك کولي شي چي په ايمان کي يې فرق وي.

وامرهم شوری بينهم دپنځوخبرو غوښتنه کوي. لمړي داچي په اجتماعي مسائلواومعاملاتوکي بايد ټولو اړوندو خلکوته دراي داظهار آزادي ورکړي شي اوهغوي دي لدي خبري نه باخبر وساتلي شي چي دهغوي مسائل څه رنګ حل کولي شي او که هغوي څه غلطي ويني نوداحق ورته حاصل وي چي آواز پورته کړي اواصلاح راوړي.

دوهم داجتماعي اموروچلولولپاره قائد اومسؤل دخلکو دخوښي په نتيجه کي مقررکړي شي اودارضامندي دجبر اوفشار په ذريعه نه بلکي په آزاده فضا کي واخستلي شي ديوقوم صحيح مشر هغه وي چي خلك يې پخپلي رضااو خوښي سره خپل مشروټاکي. دريم دقوم مشر ياامیرته دمشوري ورکولو لپاره دي هغه خلك مقررکړي شي چي دقوم وړياندي اعتماد وي اوخلکو پخپله خوښه خپله نمائندګان ټاکلي وي. څلورم. مشوره ورکوونکي بايد دخپل علم ايمان اود ضمير مطابق رائي ورکړي اوهغوي ته دراي ورکولو پوره پوره آزادي وي.

پنځم : کومه مشوره چي دراي خاوندان په يو اتفاق سره تصويب کړي اويااکثريت وړياندي اتفاق وکړي نو امير ته په کار دي چي پر هغه عمل وکړي ځکه چي که چيري يو سړي يا يوه وله دټولو مشوري له اوريدو نه وروسته بيا هم خپله خوښه کوي نو بيادمشاورت هيڅ فائده نشته اودمشوري کولوالهي حکم نشي پوره کيداي.

